چاچې کله اذان واورېد، او ویې ویېل: «أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، غُفِرَ لَهُ ذَنْبُهُ». «یعنې زه ګواهي ورکوم چې له الله جل جلاله پرته په حقه بل معبود نشته او شریک نه لري. او پدې چې محمد - صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی. پدې خوښ یم چې الله مې رب دی او پدې چې محمد صلی الله علیه وسلم مې رسول دی او پدې چې اسلام مې دین دی، نو ګناه به یې ورته وبښل شي

سعد بن أبی وقاص رضي الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې هغه فرمایلي دي: چاچې کله اذان واورېد، او ویې ویېل: «أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، غُفِرَ لَهُ ذَنْبُهُ». «یعنې زه ګواهي ورکوم چې له الله جل جلاله پرته په حقه بل معبود نشته او شریک نه لري. او پدې چې محمد - صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی. پدې خوښ یم چې الله مې رب دی او پدې چې محمد صلی الله علیه وسلم مې رسول دی او پدې چې اسلام مې دین دی، نو ګناه به یې ورته وبښل شي».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي، څوک چې له مؤذن څخه د اوربدو پر مهال ووایي: "أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له" یعني، زه اقرار کوم او خبر ورکوم چې له الله پرته په حقه بل معبود نشته، او له هغه پرته بل هر معبود باطل دی، "وأن محمدًا عبده ورسوله" او محمد د الله بنده او رسول دی یعني محمد صلی الله علیه وسلم بنده دی؛ عبادت یې نه کیږي، او رسول دی دروغ نه وایی. "رضيت بالله ربًّا" زه په الله د څښتن په توګه راضي یم، یعني د هغه په ربوبیت، الوهیت، نومونو او صفتونو. "وبمحمد رسولًا" او په محمد صلی الله علیه وسلم د رسول په توګه، یعني، د هر هغه څه سره چې هغه رالیږل شوی او مور ته یې رارسولي دي. "وبالإسلام" او په اسلام، یعني د اسلام له ټولو حکمونو او منهیاتو سره، "دینًا" یعني باور او پیروي په توګه، "نو هغه ته یې ګناهونه وبخښل شول،" یعني: له ورو ګناهونو څخه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6272


النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY


لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee